کمیته مستقل مشترک نظارت و ارزیابی

مبارزه با فساد اداری

د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی

خپلواکه او ګډه کمیټه

**INDEPENDENT JOINT ANTI-CORRUPTION MONITORING AND EVALUATION COMMITTEE**

# د سپارښتنو او بنچمارکونو پنځمه ټولګه

**کابل ـ افغانستان**

**د ۱۳۹۱ کال د کب د میاشتی ۲۷مه**

## بنستیزه پروژې

**۵، ۱: د ټولګټو په وزارت کې د تخنیکی او مدیریتي ورتیاوو د کچې لوړول به د بنسټیزو پروژو د څارنې له پیاوړي کولو او د اداری فساد پر وړاندې د زیانمنېدو کچه را ښکته کولو کی مرسته وکړی**

د افغانستان د حکومت په اړونده ادارو، په ځانګړې توګه هغو ادارو کې چې په بنسټیزو پروژو کې لکه د ټولګټو وزارت، ښکېل دي، د بنسټیزو پروژو د څارنې لپاره د تخنیکی او مدیریتي وړتیاوو نشوالی د کارونو د نیمګړتیا سبب ګرځی. د ټولګټو د وزارت د څرګندونو له مخې، د ۲۵ کیلو متر سرک د ودانولو د څارلو لپاره، ۵ انجنیرانو ته اړتیا ده، حال داچې د همدې وزارت د کیفیت او کنټرول ریاست ټول ۱۱ انجنیران لري چې د ۲۳ پروژو د څارنې دنده په غاړه لري.

**<u>سپارښتنه ۵، ۱:</u>** د ټولګټو وزارت او هغه نړیواله مرستندویه ادارې چې د بنسټیزه پروژو په پرمخ بېولو کې ښکېل دي باید د نوموړی وزارت لپاره تخنیکي او مدیریتي د وړتیاوو د کچې د لوړولو یو پروګرام طرح او پلې کړي. په دې پروګرام کې باید داسې یوه تګلاره شامله وي چې لنډ مهاله کی مهارتونه برابر او د وړتیاوو د لوړولو اوږدمهاله پروګرامونه هم په ځان کی راونغاړی.

***<u>بنچمارک ۵، ۱:</u>*** نوموړی پروګرام په ۶ میاشتو کی طرح او په ۱۲ میاشتو کی پلی شی.

**<u>د تمې وړ پایله ۵، ۱:</u>** د ټولګټو د وزارت د کارکونکو د تخنیکي او مدیریتي وړتیاوو د کچې لوړول به د اړونده پروژو د څارنی کچه لوړه او په پایله کې به د بنسټیزو پروژو کیفیت لوړ کړی.

**۵، ۲: د ټولګټو وزارت سره باید په مالي او تخنیکي برخه کې مرسته او ملاتړ وشي تر څو وکولی شي چې د خپلو ټرونونو د مدیریت اړونده چارې په ښه توګه سمبالی کړي**

د سرکونو ودانول د دې تر څنګ چې د لېږد را لېږد د ښې وسیلې په توګه د اهمیت وړ دي، د یوې ټولنې د اقتصادي، ټولنیزې او کلتوري ودې یو ډېر اړین عامل هم شمېرل کېږي. د ټولګټو وزارت ته د ټرونونو د مدیریت په اړه دنده سپارل شوې چې په هغو کې د ټرونونو د اداري چارو سمبالونه، د کیفیت کنټرولول، د نیمګړتیاوو او کمزوریو د لرې کولو په باب د اصلاحي ګامونو ترسره کول او د اړونده ټرون کوونکو د کړنو د څرنګوالي ارزول راځي. له دې امله د دې دندو د ترسره کولو لپاره د وړ بشري سرچینو ترڅنګ، مالي سرچینو ته هم په بیړنی توګه اړتیا ده.

**<u>سپارښتنه ۵، ۲:</u>** د افغانستان اسلامي جمهوري دولت څخه غوښتنه کېږی ترڅو اړونده وزارتونو، په تېره بیا د ټولګټو وزارت ته اړیني مالي او تخنیکي مرستي ځانګړې کړي تر څو د خپلو ټرونونو د مدیریت اړونده چارې په ښه توګه سمبال کړی شي. په دې مرستو کې باید د ټرونونو د مدیریت اړونده چارو د ښې سمبالوني لپاره د وړتیاوو د لوړولو د هغه پلان پراختیا هم نغښتي وي چې د اداري اصلاحاتو د کمیسون په مرسته د ټولګټو چارو د وزارت لخوا برابریږی .

**<u>بنچمارک ۵، ۲:</u>** د دریو میاشتو په موده کې د مالي او تخنیکي مرستو برابرول او د ټرونونو د مدیریت په موخه د وړتیاوو د کچې د لوړولو اړونده پلان طرح کېږی.

**<u>د تمې وړ پایله ۵، ۲:</u>** د ټرونونو ښه مدیریت به د اداري فساد پر وړاندې د زیانمنېدو کچه را ښکته کړي.

**۵، ۳: د ودانیزو موادو د آزموینې د لابراتوارونو تاسیسول به په بنسټیزه پروژو کې د درغلی او اداري فساد د مونډنی په موخه هڅې پیاوړی کړي.**

د بنسټیزو پروژو د ښه پلي کولو لپاره د مناسبو څارلو، کنټرول او د کیفیت د ډاډمنول د کره لابراتوارونو په واسطه اړین دی. خو، د ټولګټو وزارت او د هغو سیمه ایز او ولایتي څانګې داسې لابراتوارونه په واک کی نه لري. دا نیمګړتیا

د اړونده پروژو د ښې څارنې  او د دې چارې د ډاډمنولو لپاره د نوموړې وزارت مخه نیسي ترڅو ډاډ ترلاسه شی چې بشپړ شوی کار له لوړ کیفیت څخه برخمن دی.

**سپارښتنه ۵، ۳:** د ټولګټو وزارت باید په خپلو ټولو اړونده حوزوي ریاستونو کې د کیفیت د کنټرولولو د ثابتو او ګرځنده لابراتوارونو د اړتیاوو یوه ارزونه ترسره او نوموړی لابراتوارونه د هغو لومړیتوبونو سره سم جوړ کړی چې د دې ارزونې په پایله کې به تشخیص شي.

**بنچمارک ۵، ۳:** د یوه کال په موده کې دی د اړتیاوو ارزونه بشپړه، لمړیتوبونه ټاکل کیږی او د آزموینې د سیارو لابراتوارونو په ګدون د لمړیتوبونو له مخې د کیفیت د کنټرول  لابراتوارونه نصبیږی.

**د تمې وړ پایله ۵، ۳:** په مرکز او ولایاتو کې د کیفیت د کنټرول د لابراتوارونو موجودیت به په بنسټیزه پروژو کې د درغلی د مواردو له موندنو او مخنیوي سره مرسته وکړي.

**۵، ۴:  د بنسټیزه پروژو د غوراوي او پلي کولو په برخه کې د افغانستان د حکومتی له اړونده ادارو  او د نړیوالو مرستندویانو په خپل منځ کې د همغږی ښه والی به د نړیوالو مرستو د اغېزمنتیا کچه لوړه کړي.**

ډېری هغه پراختیایی پروژې چې د نړیوالو مرستندویانو لخوا تمویلیږي، په نېغه توګه په خپله د دوی لخوا پلي شوې دی. په همدې توګه د نړیوالو مرستندویانو مؤسسې د خپلو پروژو غوراوی او پلي کول د افغانستان له حکومت سره نه همغږي کوي چې دا کار په راتلونکی کی د نوموړو پروژو د څارنې او ساتنې لپاره د دوی مخنیوی کوي.

**سپارښتنه ۵، ۴:** د مرستندویانو اړونده پروژې باید د افغانستان د حکومت د ملی لمړیتوبونو پروګرام  سره په یوه لیکه او ردیف کې سمبال او مرستندویه مؤسسې باید د خپلو پروژو غوراوی او پلي کول له اړونده حکومتی ادارو او  همدا شان په خپل منځونو کې سره همغږي کړي.

**بنچمارک ۵، ۴:** د شپږو میاشتو په موده کې د پروژو د غوراوي او پلي کولو اړونده چاری هم غاړې او  همغږي کیږی.

**د تمې وړ پایله ۵، ۴:**  د مرستندویانو او افغان حکومتی ادارو ترمنځ د ښې همغږی له لارې د اړونده بنسټیزه پروژو مناسبه پلي کېدنی ، څارنی  او ساتنی لامل ګرځی.

**۵، ۵:  د بنسټیزه پروژو په اړوند  عامه خلکو ته د معلوماتو څرګندول به د روڼتیا او حساب ورکونی کچه لوړه کړي.**

اوس مهال د افغانستان په قوانینو کې د داوطلبیو د خپرولو لپاره معیارونه شتون لری، خو د تړونونو له لاسلیک وروسته د هغو د بشپړو خپرولو لپاره کومه قانوني یا حقوقي غوښتنه موجوده نه ده. سره له دې چې د ولسمشر ۴۵ ګڼه فرمان (د ۲۰۱۲ کال د جولای د میاشتې ۲۶ نېټه) د اقتصاد له وزارت نه غوښتنه کوي چې ټول هغه تړونونه چې په تېرو درېو کلونو کې لاسلیک شوي دي، خپاره کړي، خو بیا هم په دې اړه چې راتلونکی تړونونه دې هم خپاره شي، کومه غوښتنه موجوده نه ده.

**سپارښتنه ۵، ۵:**  د اقتصاد وزارت او د مالیي د وزارت د تدارکاتو د پالیسی واحد  (PPU)  باید د تړونونو د ټولو اړونده لورو (د پروژې خاوند یا مالک، تړون کوونکی، مرستندویان)  لپاره داسي الزامي معیارونه او طرزالعملونه یا کړنلارې وضع کړی چې د هغو له مخې په راتلونکې کې په خپلو وېب پاڼو د هغه پروژو د تړونونو بشپړه متنونه چې بیه یی د ۱۰۰۰۰۰ ډالرو څخه اوړی خپاره کړی. همدارنګه د پروژو په اړه نا محرم معلومات خلکو ته چمتو کړی.

**بنچمارک ۵، ۵:** د شپږو میاشتو په موده کې  معیارونه او الزامی طرزالعملونه وضع،  او  د لاسلیک له نېټې وروسته د درېو میاشتو به موده کې ټول هغو تړونونه چې بیه یی له ۱۰۰۰۰۰ امریکای ډالرو څخه اوړي د خپرولو زمینه برابریږی.

**د تمي وړ پایله ۵، ۵:** الزامي معیارونه او د بنسټیزه پروژو د اړونده تړونونو خپرول به د روڼتیا او حساب ورکونی کچه لوړه کړي.

**۵، ۶: د مرستندویه مؤسسو، تړون کوونکو، څارونکو او مراقبت کونکو ادارو څخه په ورځنی توګه رپوټ اخستل د درغلیو څخه د ډکو کړنو، د کارونو د ځنډولو او ښکته معیارونو د مخنیوي لپاره اړین ګڼل کیږي**

په اوسنی وخت کی داسي هیڅ کوم جوړښت یا میکانیزم شتون نلری چي تړون کوونکی او څارونکي اداري یا مؤسسي په دي مکلفي کړي چي د اړونده پروژو په اړه هره ورځ رپوټ ورکړي چي دا کار د ښه کیفیت لرونکي کار مخه نیسي. په ورځنی توګه رپوټ ورکول به د سپارل شوو کړنو په وخت او ښه کیفیت بشپړېدو نه ډاډ ورکړي.

**سپارښتنه ۵، ۶:** د اقتصاد وزارت او د مالیه وزارت د تدارکاتو د پالیسی واحد (PPU) سره په ګډه باید د اړیکو داسي یوه کړنلاره وضع کړي چي په هغو کي د نیمګړتیاوو او کاری ځنډ په ګډون له کاري ساحو نه د ټولو کړنو په اړه د ورځنی رپوټ ورکولو احکام شامل وي.

**بنچمارک ۵، ۶:** د شپږو میاشتو په موده کي دي د اړیکو یوه کړنلاره وضع او پلي کیږی.

**د تمي وړ پایله ۵، ۶:** د پروژې د څښتن او اړونده تړون کوونکی ترمنځ مناسبي اړیکي به د څارني کار پیاوړی او د اداری فساد پر وړاندې به د زیانمنېدو کچه را ښکته کړي.

**۵، ۷: د اداری فساد د مواردو د رپوټ ورکولو لپاره د یو میکانیزم جوړیدل به د پروژې له څښتن او مرستندویانو سره مرسته وکړي چي د پروژو د کار په پیل کي د ناوړه کړنو مخه ونیسي.**

د ناوړه کړنو او په اداري فساد ککړو فعالیتونو رپوټ ورکول به د پروژې له څښتن او مرستندویانو سره مرسته وکړي چي په هغو نیمګړتیاوو وپوهیږي چي د پروژې د پلي کولو په لومړي پړاو کي پیښیږي. اوسمهال هیڅ داسي کوم میکانیزم نشته چي د ځانګړو کسانو یا اشخاصو لپاره د دې موکه برابره کړي چي د تړون کوونکی یا نورو اړونده اړخونو د خطاکاریو په اړه رپوټ ورکړي. په همدې توګه د رپوټ ورکونکو لپاره هیڅ خوندیتوب نه شته چي دا چاره د دې لامل کیږي چي دخطاکاریو په اړه دي رپوټ ورنه کړی شي.

**سپارښتنه ۵، ۷:** ټولي هغه دولتي اداری چي له بنسټیزه پروژو سره سراو کار لري، په تېره د ټولګټو وزارت، باید د اداري فساد د مواردو د رپوټ ورکولو لپاره د اړونده مرستندویانو په مرسته یو میکانیزم رامنځ ته کړي، لکه د ټیلیفون د یوې شمېرې یا مرکز ځانګړي کول. د رپوټ ورکولو نوموړی میکانیزم به له رپوټ ورکونکو سره مرسته وکړي چي د پروژې د پلي کولو په پړاو کي د خطاکاریو او د اداري فساد اړونده فعالیتونو په اړه په کافي او محرمه توګه رپوټ ورکړي. د نوموړی میکانیزم په اړه ټول اړونده معلومات ( د تلفون کومه ځانګړې شمېره) باید له عامه خلکو سره شریکه کړی شي.

**بنچمارک ۵، ۷:** د شپږو میاشتو په موده کي د اداري فساد د اړونده کړنو د رپوټ ورکولو لپاره یوه میکانیزم جوړیږی.

**د تمي وړ پایله ۵، ۷:** د رپوټ ورکولو په پایله کي به د اداري فساد د مواردو د کشف کچه لوړه او نور به وډار شي چي په داسي ناوړه کړنو کي له ښکېلتیا ځان وساتي.

**۵، ۸: د ټولنی په کچه څارنه (Community Based Monitoring) به د اړونده پروژو په اړه د روڼتیا او حساب ورکولو کچه لوړه کړي**

د ټولنې په کچه د بنسټیزو پروژو د کار څارل یوه نړیواله ښه کړنه او تجربه ګڼل کیږي چي په بېلابېلو هېوادونو کې تری کار اخیستل کیږي. دغه کړنه ځانګړو افرادو ته په کلیوالو ټولنو کي اختیار ورکوي ترڅو هغه ودانیزی کړنی وڅاري

چې د دوی په شا او خوا کې ترسره او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه دوی ترېنه اغېزمنېږي. ځنې نادولتي مؤسېسې او مدنی ټولنی (CSOs) په دې پیل کړی چې دا ډول بنسټیزه پروژې وڅاري خو د ټولنو لخوا د څارلو کار ته د رسمي بڼې ورکول ډېر مطلوب او د خوښې وړ ګڼل کېږي.

**سپارښتنه ۵، ۸:** د کلیو د بیا جوړولو او پراختیا وزارت د نړیوالو مرستندویه ادارو سره په همغږۍ کې باید داسې یو میکانیزم طرح او پلی کړي چې د هغو په پایله کې د ټولنو لخوا د ټولو بنسټیزه پروژو د څارلو زمینه او موکه برابره کړي. په دې میکانیزم کې باید د ټولنې اړونده څارونکو او نورو انفرادي کسانو لپاره د وړتیاو د لوړولو پروګرامونه په پام کې ونیول شی.

**بنچمارک ۵، ۸:** په شپږو میاشتو کې د ټولنی لخوا د بنسټیزو پروژو د څارلو میکانیزم طرح او پلی کیږی.

**د تمې وړ پایله ۵، ۸:** د بنسټیزه پروژو د څارلو او مراقبت لپاره د ځایی ټولنود وړتیاوو د لوړولو په پایله کې به د اداري فساد د پېښو د موندنو او مخنیوي کچه لوړه شي.

**۵، ۹: د مدنی ټولنو (*CSOs*) په ګډون، د خصوصي سکتور او په همدې توګه د ملی او نړیوالو مرستندویانو لخوا د دولت لخوا د تمویل شوو بنسټیزه پروژو څارل به د روڼتیا کچه لوړه کړي**

د دولت لخوا د تمویل شوو بنسټیزه پروژو د څارلو په موخه د یوې داسې رسمي ډلې جوړول چې ګټې دندې پر مخ بیایی او په هغو کې د د مدنې ټولنې، خصوصي سکتور، مرستندویانو او حکومت استازي ګډون ولري به د روڼتیا او حساب ورکولو کچه لوړه کړي. په دې وروستیو وختو کې ډېرې بنسټیزه پروژې د مرسته کوونکو مؤسېسو لخوا څارل شوې چې کافي تخصص او خپلواکی یې نلرله. په دی اړه یوه ګډه هڅه به د افغانستان د حکومتی ادارو او مرستندویانو په کړنو کی روڼوالی او حساب ورکونه غښتلی کړی. د یوه اغېزمن چلند په توګه په دې اړه کولی شوو د ودانیز سکتور د روڼتیا د نوښت (CoST) یادونه وکړو چې په اتو هېوادونو کې کارکوي او اړونده عامه خلکو ته د بنسټیزه پروژو په اړه معلومات برابروي او له مدني ټولنو سره په ګډه د دې پروژو پلي کېدل څاري.

**سپارښتنه ۵، ۹:** د ګډو شریکانو لخوا د ودانیز سکتور د روڼتیا نوښت (CoST) باید د افغانستان د ملي پراختیایی ستراتېژۍ د دارالانشا لخوا د (CoST) د نړیوال سکرتریت په تخنیکي مرستې سره طرح شي. د دې نوښت په ګډون والو کې باید د ټولګټو وزارت، د مالیی وزارت د تدارکاتو څانګه، مدنی ټولنی، د تجارت او صنایع خونی، د افغانستان د سټنډرډ ملی اداره او د آیساف روڼتیا اداری (ANDS, MoPW, PPU, CSOs, ACCI, ANSA) استازي شامل وي.

**بنچمارک ۵، ۹:** په شپږو میاشتو کې د افغانستان اړوند د ودانیز سکتور د روڼتیا نوښت (CoST) منځته راځي.

**د تمې وړ پایله ۵، ۹:** د حکومت لخوا په تمویل شوو بنسټیزه پروژوکې د روڼتیا ډېروالی؛ تر څو د دولت لخوا د تمویل شوو پروژو په څارنه کې روڼتیا او حساب ورکولو ته وده ورکړل شي

**۵، ۱۰: د افغانستان د اړونده حکومتی ادارو سره د هغو بنسټیزه پروژو د اړونده تخنیکي معلوماتو شریکول چې د مرستندویانو لخوا تمویل او پلي کیږي، د هغو تر منځ به همکاری ته وده ورکړي او له دې سره به مرسته وکړي چې حکومتی اداري د هغو د ساتنې او څارنې کارونه په مناسبه توګه تر سره کړي.**

د هغو لویو لارو او سرکونو په اړه تخنیکي معلومات (سروی، ډیزاین او ځانګړتیاوې یا مشخصات) چې د نړیوالو مرستندویانو لخوا تمویل او پلي کېږي په بشپړه توګه د ټولګټو له وزارت او د افغان دولت له نورو اړونده ادارو سره شریک شوي نه دي. د ټولګټو وزارت د هغو لویو لارو او سرکونو د پروژو په اړه چې د نړیوالو مرستندویانو لخوا تمویل او پلي شوې دی کافي تخنیکي معلومات په لاس کې نه لري. دا نیمګړتیا ددی لامل ګرځی ترڅو د نوموړي وزارت

لخوا د دې لویو لارو او سرکونو د څارنې او ساتنې په اړه خنډونه پېښ کړي.  نوموړې وزارت په دې وروستیو کې د سرکونو د رغونې یا ترمیم او ساتنې داسې یوه تګلاره طرح کړې چې غوښتنه کوي ټول اړونده تخنیکي معلومات دې د ښې ساتنې او ترمیم په موخه سره د نوموړې وزارت سره شریک کړی شي.

**سپارښتنه ۵، ۱۰:** د دې لپاره چې د ټولګټو د  وزارت د سرکونو د ساتنې او څارنې تګلاره په ښه توګه پلي شي باید:

- د فواید عامې وزارت دې د سرک جوړولو د ټولو هغو پروژو لست ترتیب کړي چې د نړیوالو مرستندویانو لخوا تمویل شوې او د هغو تخنیکي معلومات د نوموړې وزارت سره شریک شوی نه دی، او دغه معلومات دی د اړونده مرستندویانو څخه وغواړي.
- هغو مرستندویه مؤسسو چې لویې لارې او سرکونه یې جوړ او تمویل کړي دي باید ټول اړوند تخنیکي معلومات (لکه د خاورې د تحقیقاتواو څېړنو رپوټ، د سروې مدارک، منظور شوی دیزاین او تخنیکي ځانګړتیاوې یا مشخصات) د فواید عامې له وزارت سره شریک کړي.

**بنچمارک ۵، ۱۰:** د دوه میاشتو په ترڅ کې د هغو پروژو چې تخنیکي مدارک یې شریک شوی نه دی،  لست برابراو د ۴ میاشتو په موده کې نوموړی اسناد او مدارک د ټولګټو د وزارت سره شریک کیږی.

**د تمې وړ پایله  ۵، ۱۰:** د لویو لارو او د سرکونو د تخنیکي معلوماتو په اړه ښه پوهه به د دې پروژو د ترمیم او ساتنې په بېراو کې د اداري فساد لپاره موکې کمې کړي.

## کانونه

**۵، ۱۱: د کانونو په سکتور کې د نړیوالو تجربو په اړه یوه پرتلیزه مطالعه به په افغانستان کی د کانونو د راویستلو په برخه کی د ناکامو تجربو د پلی کیدو مخه ونیسی او د بریالیو تجربو پلی کونه به دوامنه کړی.**

په ځنې هېوادونو کې د کانونو د کشفېدلو به پایله کې د هغو هېوادونو اقتصاد وده وکړه خو به ځنې نورو کې یې پایله شخړې وې او د پرمختګ لپاره یې موکې له لاسه ورکړې.  د کانونو به اړه د دې هېوادونو د تجربو یوه هر اړخیزه مطالعه به د کانونو په سکتور کې د ترټولو ښې یوې لارې په پیدا کولو کې مرسته وکړي.

**سپارښتنه ۵، ۱۱:** د افغانستان د روڼتیا د څار اداره (Integrity Watch Afghanistan (IWA)) - د افغانستان  د مدني ټولنو یواځینی  سازمان دی چې د کانو په اړه هر اړخیزه تجربه لري. دغه مؤسسه باید د کانونو د وزارت په مرسته د کانونو یوه مطالعه په لاره واچوي. نوموړې مطالعه باید پرتله ایزه توګه د هغو  هېوادونو تجربې چې له کانونو څخه یی په بریالیتوب سره ګټه اخیستې او د هغو چارې یی ښې سمبال کړې د هغو  هېوادونو سره چې نوموړې چارې پکې په ښه ډول سمبال کړی نه دی، په لاره واچوی.

**بنچمارک ۵، ۱۱:** د شپږو میاشتو په موده کې یوې هراړخیزه مطالعه  سرته رسول کیږی.

**د تمې وړ پایله ۵، ۱۱:** د کانونو د سکتور یوه هر اړخیزه مطالعه به په راتلونکې کې  د کانونو په برخه کې د تګلارو جوړونې بنسټ کیږدي.

## ټولټاکنې

**۵، ۱۲: د ټاکنو د خپلواک  کمیسون د پخوانیو هغو کارکونکو چې په درغلیو کی ښکیل ول دهغوی د ګمارنی  مخنیوی به په راتلونکو ټولټاکنو کې د درغلیو کچه راښکته کړي.**

په افغانستان کې د تېرو ټولټاکنو رپوټونه څرګندوي چې ځینې درغلیي او نورې غیر قانوني کړنې د ټاکنو د خپلواک کمیسون د ځنو پخوانیو کارکونکو لخوا تر سره شوې وې او نوموړي کمیسون د دې تورنو کسانو یو لست چمتو کړی هم دی. دا اړینه ده چې د ټاکنو خپلواک کمیسون ټول هغه کسان چې غواړی په راتلونکو ټولټاکنو کې کار وکړي په سمه او مناسبه توګه و ارزوي ترڅو د اداري فساد پروړاندې د زیانمنېدو کچه راښکته کړی شي.

**سیارښتنه ۵، ۱۲:** د ټاکنو خپلواک کمیسون باید د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو د ټولټاکنو لپاره د کار غوښتونکو ټولو کسانو لست د هغه کسانو له لست سره پرتله کړي چې په تېرو ټولټاکنو کې یې په ناقانونه او درغلو کړنو کې یې لاس درلود تر څو دا ډاډ ترلاسه شي چې دوی بیا په کار ونه ګومارل شی. د ټاکنو د خپلواک کمیسون څخه غوښتنه کیږی ترڅو د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی (MEC) ته د خپلو چانیزو کړنو په اړه رپوټ چمتو کړی.

**بنچمارک ۵، ۱۲:** د ټاکنو خپلواک کمیسون دې د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې (MEC) ته په ۲ میاشتوکی او له هغې وروسته په هرو دریو میاشتو کې یو ځل خپل رپوټ وړاندی کړی.

**د تمې وړ پایله ۵، ۱۲:** د ټولټاکنو د کمیسون د ګومارنې په کار کې د روڼتیا د کچې د لوړېدلو په پایله کې به په ټاکنو کې د درغلیو کچه راښکته شي.

**۵، ۱۳: د ټولټاکنو خپلواک کمیسون باید د رای ورکونکو د ثبت په اړه خپل پلانونه غښتلي کړي ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې د درغلیو پر وړاندې د زیانمنېدو کچه یې تر شونی حده ټیټه کړی.**

په ډېرو پرمختللو ولسواکیو کې د رای ورکونکو لستونه له یوه جامع او هر اړخیز مدني ثبت (ثبت احوال نفوس) څخه جوړیږی . خو د رای ورکونکو د ثبت په اړه د افغانستان تجربه د کره معلوماتو د نه شتون، د رای ورکونکو د کارتونه په نا مناسبه توګه صادرېدل او د رپوټونو له مخې جعلي کارتونو له هېواد نه بهر جوړېدل څخه ځوریږی . په افغانستان کې د رای ورکونکو د ثبت بهیر له ګڼ شمېر لوژستیکی ستونزو سره چې له امنیتي وضعیت سره تړاو لري، مخامخ ده. د رای ورکونکو د ثبت د هغو ستونزو پایله دا ده چې په تیرو ټولټاکنو کې د رای ورکونکو په ملیونونو جعلي کارتونه وېشل شوی ول.

**سیارښتنه ۵، ۱۳:** د ټولټاکنو خپلواک کمیسون باید د رای ورکونکي د نوم لیکنې پلان په نا امنه سیمو کې د شته دولتي تاسیساتو او عامه خدمتونو او مصؤنو ځایونو څخه په ګټه اخیستلو سره غښتلی کړی. دا کار باید د امنیتي ځواکونو په ملاتړ چې اړونده تاسیسات او کارکونکی خوندي وساتي ، ترسره شي.

**بنچمارک ۵، ۱۳:** د دوو میاشتو په موده کې د رای ورکونکو د ثبت د پلان غښتلي کیږی

***د تمې وړ پایله ۵، ۱۳:*** د رای ورکونکو یو هر اړخیز او با اعتباره لست د رای ورکونکو د کارتونو د صادرولو په برخه کې د اداري فساد کچه راښکته کوي.

## له بودیجې بهر پرمختیایی مرستې (Off-budget Aid)

***۵، ۱۴: د تېرو ټولو پلی شوو پرمختیایی پروژو د لست خپرول به د روڼتیا او حساب ورکونې کچه لوړه کړي***

له ۱۳۸۱ کال نه تر اوسه نړیوالې ټولنې د پرمختیا لپاره په افغانستان کې بلیونونو ډالر لګولي دي. د افغانستان د دولت اړونده شمېرنې څرګندوي چې د دې نړیوالو مرستو لږ تر لږه ۸۰ سلنه خپله د مرستندویه مؤسسو او ددوی شریکانو لخوا لګول شوی چې په دی برخه کی د افغانستان د حکومت سره ډېره کمه سلا او مشوره شوی ده. د حکومت او د خلکو د پوهاوي د کچې د لوړېدو په پایله کې به د روڼتیا او حساب ورکونې کچه لوړه او پرمختیایی پروژې به په ډېر اغېزمنتوب پلې کړی شي.

**سیارښتنه ۵، ۱۴:** د مالیې وزارت، د اقتصاد د وزارت او د نورو اړونده وزارتونو او مرستندویه مؤسسو په مرسته باید د ټولو هغو پرمختیایی پروژو لړلیک یا لست برابر او خپور کړي چې د ۱۳۸۴ کال نه راپدېخوا په افغانستان کې پلې شوې دي. د دې لست د برابرولو په اړه هر ډول اداري یا تخنیکي ستونزې باید عامه خلکو ته ورسول شي. د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه (MEC) به له دې لست څخه د غورواي له مخې ځنې ځانګړې پروژې وڅاري.

**بنچمارک ۵،۱۴ :** نوموړی لست په شپږو میاشتو کې چمتو او خپرېږي.

**د تمې وړ پایله ۵، ۱۴** : د پرمختیایي پروژو د څارلو په برخه کې د حکومت د رغنده رول او د عامه پوهاوی له لارې به د روڼتیا او حساب ورکوني کچه لوړه شي.

***۵، ۱۵: د بودجې د ترتیب په بهیر کې د عامه خلکو ښکېلتیا به له دې سره مرسته وکړي څو داډ ترلاسه شي چې د بودجې د تاکلو چارې د ناسم اغېز پر بنسټ نه ترسره کېږي***

د مالیې وزارت هغه مهمه اداره ده چې د نورو ټولو حکومتي ادارو سره په همغږۍ د کلنۍ بودجې د ترتیبولو دنده په غاړه لري. سره له دې څنې داسې زوروواکان شته چې د بودجې بهیر یې د دې لپاره تر خپل ناوړه اغېز لاندې راوستی چې د بودجې اړونده پیسې یا تخصیصونه له خپلو قانوني موخو نه بل لوري ته وګرزوي.

**سپارښتنه ۵، ۱۵:** د مالیې او اقتصاد وزارتونه باید دا ډاډ ترلاسه کړي چې کلنۍ بودجه د ولایتي پرمختیایي شوراګانو (PDC) د فعال ګډون له لارې چې د سیمه ایزه اداري د اړتیاوو استازیتوب کوي، د ولایتي شورا ګانومشورتي دنده چې د خلکو استازیتوب کوي، په ښه توګه د بودجې د لګولو لارې چارې د ټولو ولایتونو له اړتیاوو سره سمون ولري.

**بنچمارک ۵، ۱۵:** د ۱۳۹۳ کال بودیجه ولایتي اړتیاوو سره یوځای چمتو کېږي.

**د تمې وړ پایله ۵، ۱۵:** د عامه خلکو د ګډون په پایله کې به د روڼتیا او حساب ورکوني کچه لوړه او د ناوړه اغېز کچه به راښکته شي.

## عدالت او خوندیتوب (بخښنه)

***۵، ۱۶: د داسې یوه جوړښت یا میکانیزم برابرول چې د هغې له لارې دا چاره ډاډمنه شي چې د شواهدو د مناسبې ساتنې په پایله کې به د عدلي تعقیب بهیر نور هم اغېزمن شي.***

اغېزمني څېړني او عدلي تعقیب د دې غوښتنه کوي چې ټول شواهد او مدارک (لکه، د ګوتو نښې، بیولوژیکی مواد او اسناد) راټول، ساتل او په سمه توګه په مخزنونو کې ځای په ځای کړی شي. نوموړی کړنه به ددې ډاډ ورکړي چې اړونده شواهد او مدارک له لاس وهنې، له منځه تللو یا بدلون څخه ساتل کېږي. په دې اړه معلومات څرګندوي چې په افغانستان کې د شواهدو او مدارکو د خوندي ساتلو اوسني کړنی په ځانګړې توګه د حساسو معلوماتو په اړه کافي نه دي.

**سپارښتنه ۵، ۱۶:** د دې لپاره چې شواهد او مدارک د څېړنو او عدلي تعقیب په مهال په ښه توګه وکارول شي، د کورنیو چارو وزارت، لویې څارنوالی او نورې اړونده اداری باید پرمختللی کړنلارې یا طرزالعملونه او کړنې دشواهد او مدارکو د کنټرول او ساتنې لپاره په لاره واچوی.

**بنچمارک ۵، ۱۶:** په ۶ میاشتو کې اړونده کړنی او کړنلارې غښتلی کېږي.

**د تمې وړ پایله ۵، ۱۶:** ټول شواهد او مدارک به په سمه توګه وساتل شي او د څارنوالانو، څېړنو او عدلي تعقیب د اغېزمنتیا کچه به لوړه او اړونده شواهد به له ناوړه کاروني څخه وساتل شي.

***۵، ۱۷: پرمختللي او سم معیارونه به له یوه ولایت نه بل ولایت ته د اړونده قضیو یا دوسیو په تبدیلی کی د معافیت کچه را ښکته کړی.***

له یوه ولایت څخه بل ولایت ته د اړونده قضیو یا دوسیو تبدیلول د اداري فساد پر وړاندې د زیانمنني ښکارندوی کوی او اکثراً د زوروواکانو لخوا د داسې یوې وسیلې په توګه کارول کېږي چې د دوی اړونده قضیه دې؛ د دوی د خوښې وړ قاضي لخوا واورېدل او فیصله شي. سره له دې چې د قضیو یا دوسیو د تبدیلولو کار قانوني دی او په ډېرو مواردو کې مناسبه ده، خو دې ته اړتیا ده چې په

دې اړه دې موجود معیارونه او طرزالعملونه روښانه او واضح شي تر څو له دې احکامو څخه د ناوړه ګټه اخیستلو چې پایله یې معافیت دی، مخنیوی وشی.

**<u>سپارښتنه ۵، ۱۷:</u>** د افغانستان د ستری محکمی څخه غوښتنه کېږي چې له یو ولایت ته د جنایی قضیو د تبدیلولو په اړونده معیارونو او طرزالعملونو کی ښه والی رامنځ ته کړي.

**<u>بنچمارک *۵، ۱۷:*</u>** د شپږو میاشتو په موده کې نوموړی معیارونه او طرزالعملونه ښه والی مومی.

**<u>د تمی وړ پایله ۵، ۱۷:</u>** د اداري فساد لپاره د موکو کچه به راښکته او زورواک خلک به له مجازاتو څخه معافیت و نه مومي.

***۵، ۱۸: د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسیون د پلي کېدو ارزونه د افغان حکومت د اړونده وزارتونو او مدنـي ټولنـې د بشپړ ګډون غوښتنـه کوي***

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسیون څخه د افغانستان په ګډون په هغو هېوادونو کې چې نوموړی کنوانسیون یې منلی د اداری فساد پر وړاندې مبارزه کې د یوه چوکاټ په توګه کارول کېږي. د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ستره اداره (HOO) اوسمهال د دې کنوانسیون د هغو څپرکو په کره کتنه بوخت دی چې په جرم پېژندنه او د قانون په واکمنۍ پورې اړه لري. که دا کار په سمه توګه ترسره شی کولی شي د عدلي او قضایی نظام د سمون لپاره داسې یوه کړنلاره برابره شي چې د اداري فساد پر وړاندې اغېزمنه او ځواب ویونکي اوسی. د یادولو وړ ده چې په عدلی سکتور کې ښکیلو مهمو برخه والو د داخلی ارزونی په بهیر کې ډېره لږه ښکېلتیا څرګنده کړې، دا کار کولی شي د دې عملي کارونه له ګواښ سره مخامخ کړي.

د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه (MEC) په دې اړه اندېښمنه ده چې د داخلی ارزونې په بهیر کې د عامه خلکو د ګډون یا د افغان حکومت لپاره د ارزونو د لاسته راوړنو د خپرولو نه الزامیت چې په عامه خلکو، مدني ټولنې او نوروو څارونکو ادارو چې د دې وړتیا لري حکومت د غوښتل شوو اقداماتو د پلي کولو لپاره مسؤل وګڼل شي نه ترسترګو کیږی.

**<u>سپارښتنه ۵، ۱۸:</u>** اړونده اداری په شمول د لویې څارنوالی، د عدلیې وزارت، د کورنیو چارو وزارت، ستره محکمه او مدني ټولنی څخه غوښتنه کیږی ترڅو په بشپړه او اغېزمنه توګه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسیون په اړونده داخلی ارزونه کې برخه واخلي چې د اداری فساد پروړاندی د مبارزی ستره اداره (HOO) یې د مخدره موادو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې اړوند د ملګرو ملتونو د دفتر (UNODC) په مرسته ترسره کوی. د اداری فساد پروړاندی د څارنی ستره اداره او د ملګرو ملتونو نوموړی دفتر باید د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې (MEC) ته د اړونده ادارو د ګډون په اړه معلومات چمتو کړي.

**<u>بنچمارک ۵، ۱۸:</u>** د دریو میاشتو په موده کې د اړونده ادارو د ګډون په اړه معلومات چمتو کیږی.

**<u>د تمی وړ پایله ۵، ۱۸:</u>** پراخ ګډون به دا ډاډمن کړي چې ارزونه بشپړه او کره ده او له دې امله د راتلونکو ګامونو او تخنیکي مرستو لپاره تر ټولو غښتلي زمینه برابره وي.

***۵، ۱۹: د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه د ملګرو ملتونو دکنوانسیون د پلي کېدو په اړه د داخلی ارزونی بشپړ رپوټ باید په ارزونه کی د ګډون کونکو ادارو سره شریک شی.***

**<u>سپارښتنه ۵، ۱۹:</u>** د اداری فساد پروړاندی د څارني ستره اداره (HOO) باید د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه د ملګرو ملتونو دکنوانسیون د د پلي کېدولو اړوند د خپلو ارزونو پایلې له اړونده ګډونوالو او د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې (MEC) سره شریکی کړي.

**<u>بنچمارک ۵، ۱۹:</u>** د داخلی ارزوني رپوټ د بشپړېدو له نېټې وروسته په ۱ میاشت کې شریک کیږی.

**<u>د تمی وړ پایله ۵، ۱۹:</u>** د داخلی ارزوني د رپوټ خپرول به په مختلفو برخو کی د فساد پر وړاندې د مدني ټولنو او کړنلارو جوړونکو ته معلوماتی بنسټ وګرځی چې په پایله کی به د حکومت د پرمختګ څخه څارنه او د عدلیی نظام د پیاوړتیا سبب وګرځی.

## د ځمکو لاندی کول (غصب)

په تېرو ۳۰ کلونو کې په افغانستان څه دپاسه ۴ مليونه جريبه (۸۰۰۰۰۰ هکتاره) ځمکه غصب شوې چې په هغو کې په زرهاوو هکتاره هغه ځمکې هم راځي چې په ښاري مرکزونو لکه کابل کې غصبې شوې دي. د ځمکې ځنې ستر غاصبين لوړ پوړي دولتي چارواکي دي، داحقيقت ځرګندوي چې د دې ستونزې د هوارولو لپاره سياسي هوډ نشته. نور لاملونه چې د ځمکې د غصب د ستونزې په غزولو کې تشخيص شوي، په هغو کې اداری فساد، سياسي لاسوهني يا مداخلې، د قانون کمزوره واکمني او معافيت راځي.

د افغانستان حکومت هڅه کړې چې د ځمکو د غصب موضوع د اداري سمونی او اداری فساد پروړاندې په ملي ستراتېژي کې مطرح کړي. حکومت په دې اړه د افغانستان د ځمکو د چارو عمومي رياست (اراضی) د کرهنې وزارت په چوکاټ کې په دې موخه تشکيل کړی تر څو د ځمکو د غصب پر موضوع غور، غاصبان تشخيص او غصب شوې ځمکې بېرته خپلو اصلي خاوندانو ته وسپاری. له بده مرغه د اراضي اداره په دې اړه چې د ارزوني ترې غوښتل شوې پايلي د خلکو غوړونو ته ورسوي له ستونزو سره مخامخ ده.

***۵، ۲۰: د ځمکو د غصب د تشخيص او د اړونده قضيو د پراونو د بشپړولو اړونده حقوقي چوکاټ بايد له سره وکتل شي او ښه والی په کې رامنځ ته شي.***

اوس مهال په دې اړه کوم قانون يا مقررات شتون نلری چې د ځمکو د غصب په اړه دې څه کار وکړي. د ځمکې د غصب موضوع د جزا د قانون د احکامو له لارې حل او فصل کېږي چې د ځمکې د غصب د تخلف د بې ساري ماهيت له انده په دې اړه بې اغېزه ثابته شوی ده. په افغانستان کې د دې ستونزې د هوارولو لپاره دې ته اړتيا ده چې په دې اړه نور غښتلی او اغېزمن قانوني چوکاټ رامنځ ته شي.

**<u>سپارښتنه ۵، ۲۰:</u>** د افغانستان د ځمکو اداره (اراضی) د افغانستان د لوی څارنوالۍ په مرسته او ملاتړ بايد دغه د ځمکو د لاندی کولو اړوند قانوني چوکاټ ته د جرم د کشفولو، تحقيقاتو او عدلي تعقيب په موخه له سره کتنه وکړي او مطلوب بدلونونه د دې لپاره په ګوته کړي ترڅو د ځمکې د غصب او اصلي خاوندانو ته د هغو د سپارلو په برخه اغېزمني کړني ترسره شي.

***<u>بنچمارک ۵، ۲۰:</u>*** د ۳ مياشتو په موده کې بيا کتنه ترسره او د اړتيا وړ بدلونونه په ګوته کيږی.

**<u>د تمې وړ پايله ۵، ۲۰:</u>** د تشکيلاتي بدلونونو تشخيصول چې د ځمکې د غصب اړونده قضيې د هغی له لاری وڅېړل شی او د قانونی تعقيب لاندی راشی، منځته راشی.

***۵، ۲۱: د ځمکو لاندی کولو ته د ځانګړي جرم بڼه ورکول به په دې اړه مرسته وکړي چې له دې ستونزې سره په ډېره اغېزمنه توګه چلند وشي او نور کسان به په راتلونکې کې د دې جرم له ارتکاب نه ودار شی.***

**<u>سپارښتنه ۵، ۲۱:</u>** د افغانستان اسلامي جمهوريت څخه غوښتنه کيږی ترڅو د ځمکو د لاندی کولو پوری اړوند د ځانګړو قانوني احکامو له لارې د خصوصي او عامه ځمکو غير قانوني لاندی کولو او تصرف ته په ښکاره ډول جرمي بڼه ورکړي.

**<u>بنچمارک ۵، ۲۱:</u>** د ۶ مياشتو په موده کې ملي شورا ته د قانوني بدلونونو طرح وړاندې کيږی.

**<u>د تمې وړ پايله ۵، ۲۱:</u>** څارنوالان او محاکم به د ځمکو د غصب د قضاياوو د تعقيب لپاره حقوقی او کره قانونی احکام په لاس کی ولری او دغه ستونزی ته رسيدګی به غښتلی کړی.

***۵، ۲۲: د ځمکو د غصب ټولې قضيې بايد په اغېزمنه توګه داسې تعقيب شي ترڅو داډ ترلاسه شي چې نوموړې قضيې به تر پوښتنو ګرويږنو او عدلي تعقيب لاندې نيول کيږی.***

د ځمکې د غصب د اړونده دوسيو د شمېر په اړه چې لويې څارنوالی ته د عدلي تعقيب لپاره راجع شوي دي د اړونده ادارو ترمنځ بېلابېل معلومات موجود دي. اوس مهال د دې قضيو د تعقيبولو لپاره هېڅ کوم داسې ميکانيزم نشته چې څارنوالی ته دې رسېدلې دوسيې د هغو له مخې وڅېړل شي او د دوی اوسنی وضعيت د اداري فساد لپاره موکې برابروي.

**سپارښتنه ۵، ۲۲:** د د افغانستان د ځمکو اداره (ARAZI)، د کورنیو چارو وزارت (MOI)، د اداری فساد پروړاندی د څارني ستره اداره (HOO) ، د سیمه ایزه ارګانونو اداره (IDLGD) او د امنیت عمومی ریاست (NDS) څخه غوښتنه کیږی ترڅو د د ځمکو د لاندی کولو اړوند ټولو هغه دوسیو  او د هغوی د ځانګړو شمیره او د سپارلو نیټی سره چی د ۱۳۸۸ کال د مرغومی د میاشتی د ۱۱ نیټی څخه راپیدخوا یی د لوی څارنوالی اداری ته استولی، یو لست چمتو او د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی په لاس کی ورکړی. همدارنګه د لوی څارنوالی اداری څخه غوښتنه کیږی ترڅو د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې (MEC) ته د ورته معلوماتو سربیره د دوسیو د اوسني وضعیت او د ځنډ له دلیل سره د هغو ټولو دوسیو یو لست برابر کړي چې د ۱۳۸۸ کال د مرغومی  له ۱۱ نېټې نه یی له نوموړو ادارو نه یی تر لاسه کړې دي.

**بنچمارک ۵، ۲۲:** نوموړي لستونه په ۶ میاشتو کې چمتو او له هغو وروسته دې په هرو ۴ میاشتو کې چمتو کیږی.

**د تمې وړ پایله ۵، ۲۲:**  د ځمکو د لاندی کولو د قضیو تعقیبول به د روڼتیا او حساب ورکولو کچه لوړه کړي، ځکه چې اړونده قضیو کار به د یوه سیستم له مخې پر مخ بېول کېږي

***۵، ۲۳:  د ځمکو د لاندی کولو قضیې او د هغو اړونده فیصلې باید خپرې شي تر څو روڼتیا او حساب ورکول ډاډمن او د یوه ډار او ځنډ په توګه نورو لاندی کوونکو ته پند شي.***

د قضایی فیصلو خپرول د ځمکو د لاندی کولو د اړونده قضیو په اړه د روڼتیا او حساب ورکوني کچه لوړوي، خو دا کار تر اوسه د ځمکي د لاندی کولو د هرې قضیي په اړه تر سره شوی نه دی.

**سپارښتنه ۵، ۲۳:** د افغانستان د سترې محکمې څخه غوښتنه کېږي ترڅو د ۱۳۸۸ کال د مرغومی د میاشتی د ۱۱ نیټی څخه راپیدخوا د ځمکو د لاندی کولو د اړونده قضیو په اړه قضایی فیصلې خپرې کړي.

**بنچمارک ۵، ۲۳:**  په دریو میاشتو کې د ځمکې د لاندی کولو اړونده قضیو د محکمو پخوانی پریکړی خپریږی  او همدغه کړنه په دوامدار ډول ادامه پیدا کوی.

**د تمې وړ پایله ۵، ۲۳:** د ځمکي د لاندی کولو د قضیو په اړه د قضایی فیصلو خپرول د روڼتیا او حساب ورکولو کچه لوړوی او په همدې توګه د پایلو څارل به دا هم ډاډمنه کړي چې مرتکبین مسؤل ګڼل شوي دي.

***۵، ۲۴:  د ځمکو د لاندی کوونکو څخه د نړیوالی ټولنی د غړو احتمالی ملاتړ باید په ډاګه شی ترڅو په اړه یې لازمی کړنلاری جوړی شی.***

د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی (MEC) داسې معلومات ترلاسه کړي چې دهغو له مخې د ځمکو په غصب کې د نړیوالو د ښکېلتیا په ساحو کې یو شمېر شکایتونه ثبت شوي دي.  په دې اړه د نړیوالو مؤسسو او ځانګړو کسانو رول په اړین ډول هېڅ کله هم نه دی روښانه شوی.

**سپارښتنه ۵، ۲۴:** د افغانستان د ځمکو اداره باید د دولتي او خصوصي ځمکو د تصرف په اړه داسې معلومات را ټول کړي  چې هغه د نړیوالو مؤسسو یا د هغوی په مرسته ځمکی لاندی شوی وی، دا ډول معلومات باید د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې (MEC)  سره شریک شي.

**بنچمارک ۵، ۲۴:** لاسته راغلی معلومات د ۶ میاشتو په موده کی د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی سره شریک کیږی.

**د تمې وړ پایله ۵، ۲۴:** د ځمکو په لاندی کولو کې د نړیوالو د ښکېلتیا کچه به هغه وخت د پوهېدو وړ وی چې د پوهاوي په موخه د کړنلارو طرحي ته اجازه ورکړل شي.

## مدني ټولنه

**۵، ۲۵: اړینه ده چه یو اختصاصی کمیسیون د ملي او نړیوالو مؤسسو نه جوړشی تر څو چه ټول فعال غیر دولتي مؤسسی د چلند د مقررو سره سم وارزوی**

په تیرو څو کلونو کې غیردولتي مؤسسي د افغان حکومت او خلکو لخوا ددی دپاره تر نیوکی لاندې نیول شویدي چه اغیزمنی ندی. له دې حقیقت سره چې د غیر دولتي مؤسسو د قانون ګڼ شمیر احکام د څارني موضوع ته څانګړي شوي، د اقتصاد په وزارت کې اوسنی ستونزې لکه د څارني او ارزوني لپاره د کافي پرسونل نه شتون دی چې د هغو په پایله کې کافي څارنه نه کیږي. له دې امله چې د اقتصاد وزارت داسې کافي مسلکي پرسونل نه لری ترڅو د غیردولتي مؤسسو چارې وارزوي او وڅاري، یوه بل داسې میکانیزم ته اړتیا ده چې د غیر دولتي مؤسسو اغیزمنتوب و ارزوي.

**<u>سپارښتنه ۵، ۲۵:</u>** د اقتصاد د وزارت د غیردولتي مؤسسو ریاست باید داسي یو اختصاصی کمیسیون جوړ کړي چې د غیر دولتي مؤسسو د همغږی له ارګانونو لکه ACBAR, ACSF, ANCB, AWN او له Counter Part International نه جوړ شوی وي تر څو د نوموړو غیر دولتي مؤسسو د تشکیلاتو، وړتیاوو او اغیزمنتیاوو په اړه د نوموړو مؤسسو د چلند له مقررو سره سم په لاره واچوي. دا ارزوني له مالي اړخه باید د نړیوالي ټولني لخوا تمویل او د کار د پرمختګ رپوټ باید د اقتصاد وزارت، د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی **(MEC)** او عامه خلکو ته وړاندې کړی.

**<u>بنچمارک ۵، ۲۵:</u>** د ۳ میاشتو په ترڅ کې اختصاصی کمیسیون جوړ او له هغې وروسته په هرو ۶ میاشتو کې د کار د پرمختګ رپوټ د اقتصاد وزارت، د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی **(MEC)** اوعامه خلګو ته وړاندی کوی.

**<u>د تمې وړ پایله ۵، ۲۵:</u>** ټولي فعالی غیر دولتي مؤسسي تر څارني او ارزوني لاندې نیول کیږی.

**۵، ۲۶: د غیر دولتي مؤسسو په اړه د څانګړی معلومات باید خپاره شي تر څو د حساب ورکولو او څارني کچه لوړه شي.**

په افغانستان کې څه د پاسه ۲۰۰۰ ملي او نړیوالي غیر دولتي مؤسسي شتون لری چه د ان. جي. او(NGO) تر نامه لاندې فعالیت کوي. دا ډېره د اهمیت وړ خبره ده چې دا ټولي مؤسسي په کټګوریو یا ډلو ووېشل شي تر څو دا ډاډ ترلاسه شي چو دوی په هغو ساحوکي چې لومړی ځل ثبت شوې وې فعالیت کوي او ضمناً د دې وړتیا لري چې داسي کړنی سرته ورسوی او د نړیوالو مرستو له اختلاسه مخنیوی وسی.

**<u>سپارښتنه ۵، ۲۶:</u>** د اقتصاد وزارت باید د عامه خلکو د لاسرسي لپاره د ټولو غیر دولتي مؤسسو داسي یو ډېټابیس یا دمعلوماتو ټولګه رامنځ ته کړي چې په هغو د نوموړو مؤسسو نوم، پته، بنسټیز فعالیت، د تیرو کلونو مالي صورت حساب، کلنی بودجه، د هغو د اجرایی بورد ترکیب او نومونه او اجرایی رئیسانو او دری ستر مالی مرستندویان شامل وي.

**<u>بنچمارک ۵، ۲۶:</u>** په یوه کال کې یو ډېټابیس یا دمعلوماتو ټولګه جوړه او خلکو ته د لاسرسي دپاره وړاندی شی.

**<u>د تمې وړ پایله ۵، ۲۶:</u>** د غیر دولتي مؤسسو د اغیزمنتیا د کچې لوړوالی، ډلبندي او د اصولی څارني د کار ډاډمنیدل

### نړیوالي مؤسسې

د اداری فساد پر وړاندی د څارني او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی **(MEC)** داسي معلومات او شواهد تر لاسه کړي دي چې د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو ستره کمشنری (UNHCR) په اړه یو لړ اندېښني یکی موندل شوي دي. اړونده سرچینو څرګنده کړې ده چې د حکومتي ادارو په استازیتوب د UNHCR لخوا د ځنې کورونو د کرایي د ورکولو په اړه د احتمالي درغلی ځنې

فعالیتونه پیښ شوي دي. د رارسیدلو شواهدو له مخي د نظر وړ کورونه هیڅ وخت د رسمي موخو لپاره کارول شوي نه دي او ځني نوموړی کورونه د حکومت به لوړپوړو چارواکو پورې اړه لري.

سربیره پردې، د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی (MEC) داسې معلومات هم تر لاسه کړي چې د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت داسې یو بل بانکي حساب پرانیستلی چې د هغو له لارې د د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو د ستری کمشنری (UNHCR) لخوا مالي مرستې برابرېږي. دا کار ظاهراً د مالي مدیریت او عامه لګښتونو له قانونه سرغړونه ګڼل کیږی، ځکه دا د دولت د اصلی بودجی له لارې نه مصرفیږی او نه هم د مالیې وزارت د بودجې له عمومي ریاست نه درخواست شوی. دا کره نه ده چې دا پیسې د څه شي لپاره تخصیص ورکړل شوې او څرنګه لګول کیږي.

سر بیره پر دې، د بیلابیلو سرچینو څخه دا په ګوته شوی ده چې د د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو ستری کمشنری (UNHCR) لخوا د غبرګ معاشونو ، خیالي کارکونکو (ghost employees) او د بشري سرچینو په کار کې د نورو درغلیو له لارې د اختلاس عمل ترسره شوی دی. د مالي مدیریت او د رپوټ ورکوني د روڼتیا سیستم د نشتوالي له کبله داسې یو چاپیریال رامنځ ته کیږي چې دې ډول کړنو ته په کې د نورو غزېدو اجازه ورکول کیږي او اړونده پروژې په مناسبه توګه نه پلي کیږي.

په همدې توګه د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو په وزارت کی د پروژو په همغږی او پلي کولو کی د روڼتیا نشتوالی په پایله کې دنا اغیزمنه پلي کېدنه او د مرستو احتمالي ناوړه لګونه رامنځ ته کېږي. د نوموړو دواړو ادارو ترمنځ تفاهم لیک به د روڼتیا او همغږی کچه لوړه او د احتمالي اداري فساد کچه به را ښکته کړي.

**۵، ۲۷: یوه ټولیزه پلټنه کولی شي په UNHCR کی د اداري فساد پیښنې څرګندی کړي.**

<u>**سپارښتنه ۵، ۲۷:**</u> د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو ستره کمشنری (UNHCR) باید د خپلو کړنو په اړه یوه ټولیزه پلټنه د ۱۳۸۸ کال د جدی د میاشتی را هیسی ترسره او خپره کړي او د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه (MEC) دې له خپلو موندنو، ترلاسه شوو پایلو او اړونده سپارښتنو نه خبره کړي. په پلټنه کې باید ځانګړې پاملرنه د اړونده مرستو څخه د ناوړې ګټه اخیستنې او په همدې توګه دوهم بانکي حسابونو، د معاشونو اداري چارو او د سرپناوو ودانولو ته واړوي.

<u>**بنچمارک ۵، ۲۷:**</u> د ۶ میاشتو په موده کې دې د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه (MEC) د ټولیز پلټنی له پایلو خبره کړی شي.

<u>**د تمې وړ پایلې ۵، ۲۷:**</u> د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو ستره کمشنری (UNHCR) کې به د اړونده چارو د روڼتیا او حساب ورکولو کچه لوړه شي.

**۵، ۲۸: د مالی پلټنې له لارې کېدی شي دمهاجرینو او راستنیدونکو چارو په وزارت کې د اداري فساد اړونده کړنې وپیژندل شي.**

<u>**سپارښتنه ۵، ۲۸:**</u> د پلټنې د ستری اداري (SAO) څخه هیله کیږی چه د مالی پلټنی د اداری (FINTRACA) په مرسته باید په سملاسي توګه د دمهاجرینو او راستنیدونکو چارو په وزارت کې د داخلي یوه مالی پلټنه د ۱۳۸۸کال د جدی د میاشتی نه را هیسی په لاره واچوي او د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه (MEC) دې له خپلو موندنو، ترلاسه شوو پایلو او اړونده سپارښتنو نه خبره کړي. دا پلټنه کې باید ځانګړې پاملرنه د تاسیساتو یاکورونو اړوند د مرستو څخه ناوړې ګټه اخیستنې او په همدې توګه دوهم بانکي حساب، د معاشونو اداري چارو او د سرپناوو ودانولو ته واړوي.

<u>**بنچمارک ۵، ۲۸:**</u> د ۲ میاشتو په موده کې دې د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه (MEC) د مالی پلټنی له پایلو خبره کړی.

<u>**د تمې وړ پایلې ۵، ۲۸:**</u> د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو په وزارت کې به د اړونده چارو د روڼتیا او حساب ورکولو کچه لوړه شي.

**۵، ۲۹: باید په ټولو وزارتو کی پټ او دوګونی بانکی حسابونه وپیژندل شی او له منځه ولاړشی تر څو د فساد او مالی مرستو نه د نا سمی ګټی څخه مخنیوی وشی.**

**سپارښتنه ۵، ۲۹:** د تفتیش د ستری اداری (SAO) څخه هیله کیږی چی د دوه ګونی بانکی حسابونه په ټولو وزارتونو کی د خپل معمول تفتیش برخه وګرځوی ترڅو دا ډاډمنه شی چی دوه ګونی بانکی حسابونه په ټولو وزارتونو کی شتون نلری.

**بنچمارک ۵، ۲۹:** ددی سپارښتنی څخه یوه میاشت وروسته په ټولو وزارتونو کی د تفتیش لړی پیل او ۸ میاشتی وروسته د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټی **(MEC)** ته رپوټ ورکول کیږی.

**د تمی وړ پایلی ۵، ۲۹:** په چارو کی روڼتیا به په ټولو پلټل شوو وزارتونو کی پیاوړی شی.

**۵، ۳۰: د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو په ستره کمشنری (UNHCR) کي د اداري فساد پر وړاندې زیانمنی باید په ښه توګه درک او ډاډ ترلاسه شي چې اداري فساد د مخنیوي او د هغو د پېښو د کشفولو لپاره اړین ګامونه تر لاس لاندی نیول شوي دي.**

**سپارښتنه ۵، ۳۰:** د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو ستره کمشنری (UNHCR) باید د اداري فساد پر وړاندې د زیانمنېدو د څرنګوالي د معلومولو لپاره یوه ارزونه ترسره او د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی **(MEC)** ته دي په دې اړه له تفصیلاتو سره یو داسی رپوټ چمتو کړی چې کمیټه د هغو له مخې ترلاسه شوي پایلي و ارزولی شي. په نوموړي ارزونه کي باید د کورونو اړوند د مرستو نه ناوړي ګټه اخیستني او په همدې توګه دوه ګونی بانکي حسابونه، د معاشونو اداري چارو او د سرپناوو ودانولو ته ځانګړي پاملرنه واړول شي.

**بنچمارک ۵، ۳۰:** د ۶ میاشتو په موده کي د د اداري فساد پر وړاندې د زیانمنېدو د ارزوني رپوټ بشپړ او د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډي کمیټي (MEC) ته سپارل کیږی.

**د تمی وړ پایلی ۵، ۳۰:** د اداري فساد پر وړاندې د زیانمنی څرګندیدل به له دې سره مرسته وکړي چې په اړه یی تدابیر وضع او پلي شي.

**۵، ۳۱: د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو د ستری کمشنرئ (UNHCR) او د اړونده ادارو تر منځ ښه همکاري به د (UNHCR) لخوا په تمویلېدونکو پروژو کي د روڼتیا کچه لوړه کړي**

**سپارښتنه ۵، ۳۱:** د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو ستره کمشنری (UNHCR) او د مهاجرینو او راستنیدونکو وزارت (MoRR) تر منځ باید د هغو پروژو د لومړیتوب، غوراوي او پلي کیدو لپاره چې د (UNHCR) له مرستو تمویلیږي هوکړه لیکونه لاسلیک شي. (UNHCR) باید د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډې کمیټې (MEC)، د مالیي او د اقتصاد وزارتو ته د نوموړي هوکړه لیک یوه لاسلیک شوی کاپی وسپاري.

**بنچمارک ۵، ۳۱:** د ۲ میاشتو په موده کي د نوموړي هوکړه لیک لاسلیک او د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډي کمیټي (MEC)، د مالیي او د اقتصاد وزارتو ته د نوموړي هوکړه لیک یوه یوه کاپی سپارل کیږی.

**د تمی وړ پایلی ۵، ۳۱:** د اړونده پروژو په پلي کولو کي به د همغږی او روڼتیا کچه لوړه او غښتلي شي.

## د ملکی تخنیکی مرستو پروګرام (CTAP)

مختلفی منابع دا څرګندوی چی د ملکی تخنیکی مرستو د پروګرام ځنی کارکونکی او سلاکاران چی په وزارتونو او مختلفو موسساتو کښی کار کوی په قوم پرستی، تقلب، په غفلت، غیر حاضری اوخپلو دندو ته د تعهد په نه لرلو اخته دی. د مالی او اجراییوی پلټنی نشتوالی د دی لامل ګرځی چی نوموړی کارونه دوام ولری. منابع داسی زیاتوی چی د CTAP د کارکونکو او سلاکارانو کار نه دی ارزول شوی او پروګرام تر اوسه پوری کوم د قناعت وړکار ندی تر سره کړی.

**۵، ۳۲: د لارښوونکي داسي یوه کمیته چي اجرایی واک او مناسب غړیتوب ولري، به د (CTAP) د روڼتیا کچه به لوړه کړي**

**سپارښتنه ۵، ۳۲:** د مالیې وزارت باید د (CTAP) د سلا مشورتي بورډ د لاربښوونکي له یوې داسې کمېټې سره بدل کړي چې اجرایی واک او د نړیوالې ټولنې استازیتوب ورسره وي.

**بنچمارک ۵، ۳۲:** په ۳ میاشتو کې لاربښوونکې کمیټه جوړیږی.

**د تمې وړ پایلې ۵، ۳۲:** د (CTAP) په اړونده چارو کې به د روڼتیا او حساب ورکولو کچه لوړه شي.

**۵، ۳۳: یوی پلټنی ته اړتیا ده ترڅو په CTAP کې روڼتیا رامنځ ته شي.**

**سپارښتنه ۵، ۳۳:** د پلټنی د ستره اداره (SAO) د اداري اصلاحاتو د کمیسیون (IARCSC) په همکارۍ باید د CTAP د کارکونکو او سلاکارانو په اړه کوم چې په بیلابیلو وزارتونو کی او ادارو کې ځای په ځای شوي، یوه مالي او کړنیزه پلټنه تر سره کړي او د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی **(MEC)** ته دې د پایلو په اړه معلومات ورکړي.

**بنچمارک ۵، ۳۳:** د ۳ میاشتو په موده کې نوموړی پلټنه بشپړه او د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی **(MEC)** ته د رپوټ سپارل کیږی.

**د تمې وړ پایلې ۵، ۳۳:** د روڼتیا او حساب ورکولو کچې لوړیږی.

## خصوصي سکتور

**۵، ۳۴: د سوداګری د چارو د وزارت کاري پلان باید د تجارت دشاخصونو (DBI) په ځواب کی د اداري فساد سره د مبارزې په اړه تدابیر په پام کې ونیسي ترڅو د اداري فساد پروړاندې د زیانمنیدو کچه رابښکته کړی شي.**

د نړیوال بانک د تجارت شاخصونه (DBI) د نړی په ۱۸۵ هیوادونو کې د سوداګری په برخه کې آسانتیاوو د ارزولو له لارې اندازه کوي چې په هغو کې د تشبث یا سوداګرۍ د پیل له پاره د اړونده مقرراتو څرنګوالی، د ودانولو د جوازنامو، د برېښنا د میټر لرلو څرنګوالی، د ملکیتونو د ثبت ، د پورونو یا کریډیټونو د ترلاسه کولو، د پانګوالو د ملاتړ او خوندیتوب، د مالیو د ورکړې، بهرنی سوداګری، د تړونونو یا قراردادونو د اجرا او د پورونو د ورکړې د وړتیا یا د سیالیت د کچې څرنګوالی راځي.

د ۱۳۹۱ کال اړوند د نوموړي د شاخصونو له مخې افغانستان د ۱۸۵ هیوادونو په لیکه کې د ۱۶۸ ځای لری. دا ارزونه په مقرراتي چاپیریال کې داسې ډېرې ساحې په ګوته کوي چې د ښه والي او پرمختیا ګنجایش په کې ډېر دی تر څو هیواد کې سوداګریز او تشبثاتي فعالیتونه وغوړیږي. په دې اړه چې په دې شاخصو کې ډېرو توپیرونو ته له سره کتنه وشي، د سوداګری وزارت یو کاري پلان طرح کړی دی. د یادولو وړ ده چې د (DBI) میتودولوژۍ یا چال چلند په صریح توګه اداری فساد په خپلو ارزونو کې په پام کې نه دی نیولی. سره له دې د سوداګری وزارت په نوموړي پلان کې د اداري فساد د کچې د رابښکته کولو لپاره ځینې تدابیر په پام کې نیول شوي دي، که څه هم د سوداګرۍ وزارت په وړاندې شوی کاری پلان کی ځنې داسې تدابیر نیول شوی دي چې د اداری فساد پر وړاندې د زیانمنیدو کچه رابښکته کوي.

**سپارښتنه ۵، ۳۴:** د سوداګری وزارت باید د (DBI) په اړه خپل کاری پلان تجدید او له اړونده اداراتو سره یی په دې توګه پلی کړي چې ډاډ تر لاسه شي چې د اداري فساد سره د مبارزې په اړونده ټول اصول په پام کې نیول شوي او د اداري فساد پر وړاندې د زیانمنیدو کچه نه لوړیږي.

**بنچمارک ۵، ۳۴:** د ۲ میاشتو په موده کې د کاری پلان باندی د سره غور کیږی.

**۵، ۳۵: د مفسدو تړون کوونکو سره د تړونونو له لاسلیکولو نه د ډډه کولو په موخه د یوه څانګړی تور لست چمتوکول به د اړونده هڅو په اغیزمنتیا کې مرسته وکړي.**

تورلستونه د دې لپاره چمتو کیږی ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې هغه شرکتونه یا مؤسسې چې په نا مطلوبو کړنو ( اداری فساد، درغلي، په ټیټ کیفیت د پروژو پلي کول ) کی ښکیل وي، به راتلونکي کي تړونونه ترلاسه نه کړي. اوسمهال د افغانستان دولت او مرستندویه هیوادونه خپل تور لستونه چمتو کړی، خو په اغیزمنه توگه دغه لستونه نه سره شریکوي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې په تور لست کې شاملو تړون کوونکو ته د نورو مرستندویانو لخوا پروژې ونه سپارل شی.

اړونده رپوټونه څرگندي دی چې ځینې نړیوالو مرستندویان د تړونونو د ورکولو په برخه کې خپل تورلستونه به سمه توگه نه کاروي. د دې تورو لستونو یوځای کول او خپرول به له دې سره مرسته وکړي چې ډاډ تر لاسه شی نوموړي لستونه په ډېره اغیزمنه توگه د داسې یوې وسیلې په توگه کارول کیږی چې د اداري فساد او په تړونونو کې د نورو نامطلوبو کړنو مخه نیسي او هغه کشف کړی.

**<u>سپارښتنه ۵، ۳۵:</u>** د اقتصاد وزارت باید د نړیوالو مرستندویانو به مرسته چې د اداري فساد سره په مبارزه کې ښکیل دي او په همدې توگه د نورو ملي او نړیوالو ادارو په مرسته یو ځانگړی تور لست ترتیب کړي. نوموړی تور لست باید به منظمه توگه هر وخت نوی شي او د اړونده ټولو ادارو او مؤسسو په وېب پاڼو او ملي او ځایی ورځپاڼو کې خپور شي.

**<u>بنچمارک ۵، ۳۵:</u>** په ۴ میاشتو کې ځانگړی تور لست چمتو او خپریږی او له هغی وروسته په هره میاشت کې نوموړی لست نوی کیږی.

**<u>د تمې وړ پایله ۵، ۳۵:</u>** د تورو لستونو د کارولو په اړه به داسې اغیزمنتیا را منځ ته شي چې نور به په اداری فساد کې د لاس لرلو تړون کوونکو ته تړونونه ورنه کړل شي.

## د افغانستان د بیا رغوني او پرمختیا د خدمتونو اداره (ARDS)

**۵، ۳۶: د افغانستان د بیا رغوني او پرمختیایی خدمتونو د اداری (ARDS) په اړه یوه مالی پلټنه به د مشکوک کړنو اړوند ځینی تورونه روښانه کړي.**

نوموړې اداره د دې لپاره تاسیس شوی چې د افغانستان د دولت له اړونده ادارو سره د دوی د پیرودونو د کړنو کوم چه له ټاکل شوی حد نه لوړ وی مرسته وکړي. په همدې توگه د پیرودنو د خدمتونو دا اداره هغه پرمختیایی او عملیاتي پروژې پلي کوي چې د نړیوالو مرستندویانو او د مالیې د وزارت لخوا تمویلیږی. د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او گډی کمیټی (MEC) ته داسې رپوټونه رسیدلی دي چې څرگندوی د پیرودنو د خدمتونو نوموړې اداره د پیرودنو په داسې کړنو کې ښکیل پاتې شوې چې مشکوک دي. د مالي او اجرااتي چارو یوه مالی پلټنه له دې سره مرسته وکړي چې لگیدلي تورونه ثابت یا رد کړي او په دې اړه به هم گټور وي چې په نوموړی اداری کی د اداري فساد پر وړاندې موجودې زیانمنې تشخیص شي.

**<u>سپارښتنه ۵، ۳۶:</u>** د پلټنی ستره اداره (SAO) د نړیوال بانک په مرسته باید د ۱۳۸۸ کال د مرغومی د میاشتی له ۱۱ نیټې څخه د ۱۳۹۱ کال د مرغومی تر ۱۱ نیټې پورې د افغانستان د بیا رغوني او پرمختیایی خدمتونو د اداري (ARDS) په اړه یوه مالي او کړنیزه پلټنه په لاره واچوي او تر لاسه شوې پایلې باید په ملي چاپي او بریښنایی رسنیو کې خپرې کړی.

**<u>بنچمارک ۵، ۳۶:</u>** د ۴ میاشتو په موده کې پلټنه بشپړه او پایلې یې خپریږی.

**<u>د تمې وړ پایله ۵، ۳۶:</u>** د افغانستان د بیا رغوني او پرمختیایی خدمتونو د اداري (ARDS) کې د روڼتیا او حساب ورکولو د کچې لوړول منځته راځی.